د جماعت(ډلګېو)

# نبوغ



لیکوال: چارلز بوکاوسکي

ژباړه: عبدالرشید صمد نجاب

# د ډلګيو نبوغ

**ليکوال:** چارلز بوکاوسکي

**ژباړه:** عبدالرشيد صمد نجاب

**سرلیک:** د جماعت (ډلګېو) نبوغ

**لیکوال:** چارلز بوکاوسکي

**ژباړه:** عبدالرشید "صمد نجاب"

**پښتی ډیزاین:** ارسلان همت

**ترتیب:** ارسلان همت

بسم الله الرحمن الرحيم ط

## د ډلګـــېو نبـــوغ:

په برابره کچه دوکه، کرکه، تاوتریخوالی،

ناداني او خلا شتون لري

په منځنۍ توګه

که هر انسان ته کوم پوځ برابر شي

کومه ورځ

او په وژنه کې هغه کسان تر ټولو غوره دي چې پر وړاندې یې

تبلیغ کوي

او په کرکه کې هغه کسان تر ټولو غوره دي چې د مینې

تبلیغ کوي

او په جګړه کې تر ټولو غوره بلاخره

هغه کسان دي چې د سولې تبلیغ کوي

هغه خلک چې د خدای (جل جلا له) تبلیغ کوي، خدای (جل جلا له) ته اړتیا لري

هغه خلک چې د سولې تبلیغ کوي سوله نلري

هغه خلک چې د سولې تبلیغ کوي مینه نلري

خبر اوسئ له مبلغانو

خبر اوسئ له پوهانو

هغوی په وېره کې دي له هغه څه څخه چې پرې نه پوهېږي

خبر اوسئ له هغو کسانو څخه چې ستاینه کې چټک دي

ځکه هغوی بېرته په بدل کې ستاینې ته اړتیا لري

خبر اوسئ له هغو خلکو څخه چې پرله پسې ګنه ګونه لټوي

ځکه چې هغوی یوازې هیڅ دي

خبر اوسئ له متوسط سړي متوسطې ښځې څخه

خبر اوسئ له مینې څخه یې

د هغوی مینه منځنۍ (متوسطهْ) ده

متوسط لټوي

خو د هغوی په کرکه کې نبوغ دی

د هغوی په کرکه کې پدې اندازه نبوغ شتون لري چې تاسو ووژني

هر څوک ووژني

یوازېتوب نه غواړي

په یوازېتوب نه پوهېږي

هغوی به د هر څه د ویجاړولو هڅه وکړي

چې له خپل ځان سره یې توپیر ولري

د هنر را منځته کولو کې ورتیا نه لري

هغوی به په هنر پوه نه شي

هغوی به خپلې ناکامۍ د خلاقیت په توګه وګڼي

یوازې د نړۍ د ناکامۍ په توګه

د بشپړې مینه کولو ورتیا نه لري

هغوی به د تاسو په مینه د نیمګړتیا باور وکړي

او بیا وروسته هغوی به له تاسو کرکه وکړي

او د هغوی کرکه به بشپړه وي

لکه یو ځلانده الماس

لکه یو چاقو

لکه یو غر

لکه یو پړانګ

لکه یو زهري ګل

د هغوی تر ټولو ښه هنر.

**پای**